# د پښتو ډاټ نېټ او

## د ښاغلي فضل عندليب څخه يوه نړۍ مننه

www.pashtoonkhwa.com



## شاعر: ښاغلی رياض تسنيم

تماشه دې دَ خپل زړۀ کا
تماشه کۀ دې پکار ده

دَ مجذوب دَ خُلې نه وتې
نو خبره خو دَ کار ده

دا چې مالار ته راکاږی
دا دُنيا کومه پۀ لار ده

دا به منې چې دروغ هم څۀ پۀ کمال وايو
چاکرى هم کړو اؤ شعرونه دَ خوشحال وايو

داسې خاموشه سوزېدۀ هم مزه خپله لرى
کوم کوم سرى ته به دَ ماتو زړګو حال وايو

نۀ مطمئن يُو، چې پۀ خپله ګناه نۀ خبر يُو
نۀ دېوال وَر ګڼو اؤ نۀ وَر ته دېوال وايو

لارې ګواه، دَ رنتنبور نه تر لاهوره پورې
خپلې سندرې دَ زنځير پۀ سُر اؤ تال وايو

دَ هغۀ حُسن پۀ غرور کښې هيڅ کمے نۀ راځى
مونږ کۀ هر څومره داستانونه دَ زوال وايو

ځُلۀ مو دې ماته شى، کۀ هغه ورځ پۀ مونږه راغله
چې د تيارو سپه سالار ته به مشال وايو

تسنيمه! بڼ دَ شاعرۍ شولو لۀ شوره خالى
اوس پۀ دې دَور کښې به چا ته خوش مقال وايو



دا خلق تا اؤ نۀ پۀ ما پسې لاسونه مروړى
ټول خپلې خپلې مدعا پسې لاسونه مروړى

دا چې پۀ قدر دَ رڼا اؤ دَ رنګ نۀ پوهېدل
هغوى پۀ رنګ اؤ پۀ رڼا پسې لاسونه مروړى

دواړه برباد، ولې پۀ خپل ځائې مطمئن يو دواړه
نۀ زۀ پۀ وخت، نۀ وخت پۀ ما پسې لاسونه مروړى

ټول دَ جادو دَ اژدها اؤ نه امان غواړى اوس
څوک پۀ امسا نۀ پۀ موسى پسې لاسونه مروړى

دغه تنها کوځې ودانې وې پۀ ما تسنيمه!
اوس دې زما غونډې تنها پسې لاسونه مروړى

خبر دا دے، چې نۀ بنګ شۀ ، نۀ لونګ شۀ
سخته وسپنه زړګے وۀ ، لاړۀ زنګ شۀ

هر خواهش مې کله دوست، کله دُشمن شی
هر خواهش مې دَ دُنیا پۀ رنګ کښې رنګ شۀ

ستوری سترګو کښې راخېژی اؤ پرېوځی
هر دېوال ځی، تر اسمانه پورې دنګ شۀ

بې کچکوله ملنګی نۀ ده عذاب دے
دا جهان چې څومره لوې وۀ دومره تنګ شۀ

پۀ هر رنګ کښې کۀ ئې ګورې رنګ ئې یو دے
خدائې دې نۀ کا ، کۀ تسنیم دا ستا پۀ رنګ شۀ



نۀ مې نهرونه کنستل ، نۀ دا اووۀ سمندرونه اؤ نۀ غرترمینځه
نۀ وې مضبوطې قلاګانې ،بس نرے دېوال دَهجروۀ اکثر ترمینځه

دادَ داستان کومه حصِه کښې مې لاس ومروړل پۀ نورو کردارونو پسې
دا زۀ یواځې یم ولاړ، ولې ولاړیم ، دَکوم خېراؤدَکوم شرترمینځه

زۀ هم زلمے ؤم، شهزاده وُم اؤ راوتی وُم دَ ژوند دَ ښاپیریو پۀ لټون
سترګې چې کوم پلو ته وارؤم ، ولاړوی یو دَتوروکاڼو غرترمینځه

تل ئې وژلے اؤ بېخی ئې دَ خپل مرګ پۀ لذتونو خبر کړے نۀ یم
چرته زما دَ وینو څاڅکی هم پراتۀ دی؟ دَمنظر اؤ پس منظر ترمینځه

نۀدَرحمن پۀ شان مې عشق،نومهینے مې دَ بهلول اؤ د اورنګ
خوړلی
خو تجربه وه اؤ بلهاډېره ترخه وه ، دَ سرکار اؤ دَ نوکرترمینځه

چرته پۀ زور ویستل پکار دی ، یوه ورځ یا یوه شپه دَ موړ دیدن دپاره
یَه سړیو ! میاشتې اؤ کلونه شمېرو، کله وی روژه کله اختر تر مینځه

شپه هم درنه وه، دَ سحر درک هم نۀ لګېد اؤ زړونه هم پښېمان غوندې وو
لارو به څۀ وئېل تسنیمه ! عمر تېر وۀ دَ خبر اؤ نۀ خبر ترمینځه

نهٔ دې زړهٔ سُورے دے ، نهٔ دې داغ پهٔ ځيګر ايښی دے
دا دَ محبت پهٔ کومه کرښه دې سر ايښی دے

پال به دَ حافظ اؤ د رحمن ديوان کښې ګورمه
دا ځل مخامخ دې راته داسې منظر ايښی دے

هر ځلې چاپېر لکه پرکار لهٔ ځانه چورلمه
هر ځلې دې پښو کښې راته داسې سفر ايښی دے

زمکه مې راکاږی ځان ته ، هسې تيټ روان نهٔ يم
بوج مې دَ خپل عصر دَ ګناه هم پهٔ سر ايښی دے

دا تسنيمه ! څوک دے؟ خدوخال لکه زما لری
دا ئې کوم تصوير زما دَ قد برابر ايښی دے



تلم اؤ راتلم ، اخر خالی مکان ته ودرېدمه
زهٔ چې لهٔ ځانه مَروَرؤم ، ځان ته ودرېدمه

دا شپه زمونږ دَ بدبختۍ حالونه چاته وائی
يوه شپه لهٔ ستورېوډک اسمان ته ودرېدمه

خدائې خبر کومې ذائقې مې پهٔ زړهٔ وورېدې
داچې دَ شونډو دَ شکرو کان ته ودرېدمه

نور دَ دې ويړ جهان لهٔ هر منظره غلے تېر شوم
تهٔ مې ارمان وې اؤ زهٔ خپل ارمان ته ودرېدمه

حق دے تسنيمه ! دَ باګرام دَ پريزادو جادو
راغلم اؤ ثلی دَ ملنګ رحمن ته ودرېدمه

ژوند زمونږ حوصله ده ، په دې خاوره
مرګ دے هره ساه اؤ شپه ده ، په دې خاوره

خوشبوئی ده ، لۀ رګونو نڅوړیږی
وینه ځائې په ځائې پرته ده ، په دې خاوره

ډېرې لوبې دَ سرونو سره وُشوې
ډېرو کړې تماشه ده ، په دې خاوره

څړیکې زړۀ نه راوُځی، زړۀ ته واپس ځی
حال دَ زړۀ هم تماشه ده په دې خاوره

رېګ دے ، دشته ده تسنیمه ! تنهائی ده
دَ عذاب لاره ووږده ده ، په دې خاوره



راته معلومه وه ، چاپېره ریا ، نۀ راتلمه
زۀ دې کوفې ته دَ خپل زړۀ په رضا نۀ راتلمه

نۀ دَ بل ځائې وُم ، نۀ د تېرو زمانو په شانې
دَ دې کوڅو وُم ، خو په یاد کښې دَ چا نۀ راتلمه

یا مې شعرونه یا دَ ویښو شپو زخمونه راوړل
زۀ چې هر وار لۀ تا راتلمه، تنها نۀ راتلمه

څۀ عجیبه غوندې مزه وی دَ ماضی دَ یاد هم
هسې دَ ورانو کنډرونو په خوا نۀ راتلمه

تسنیمه ! درد مې په رګونو کښې موجونه وَهَل
دا چې هجوم کښې دَ دې واړه دُنیا نۀ راتلمه

چې کلے چُپ وی اؤ رسی دَ دار خبرې کوی
نو داسې وخت کښې لېونی دَ کار خبرې کوی

زړونه هم چا دی دَ لعلونو پهٔ بدل اخستی
دا خلق خدائې خبر دَ کوم بازار خبرې کوی

دغه نرګس سترګې اؤ دغه پهٔ زړهٔ کانړی جهان
پهٔ دغه ګل شونډو به څهٔ سرکار خبرې کوی

هر ځائې اؤ هرچا ته مو خپله مدعا بیان کړه
اوس دې پهٔ مونږ پسې دا واړه ښار خبرې کوی

تسنیمه ! داسې یو همزاد سره مې عمر تېر شهٔ
دَ شمار خبرې اوری اؤ د شمار خبرې کوی



عجبه حېرانی ده ، عجب غلی یُو ، جانانه !
چا داسې ائینو ته وُدرولی یُو ، جانانه

نور دا دَ قسمتونو ستوری ښهٔ راته معلوم دی
دا ډېره ده ، چې خیال کښې دې راغلی یُو جانانه

کاش تا خو دَ دې هجر دَ شپې حال پُښتلے نهٔ وے
کهٔ نورچا نهٔ یُو ، تاخو ازمائېلی یُو جانانه

نغمې مو لکه سېل نه جُدا شوې زانې ژاړی
دا ځلې داسې زړهٔ باندې داغلی یُو جانانه

دې خاورو اؤ ګردونو کښې هم سحر غوړېږو
ګلاب یُو اؤ چا لاره کښې کرلی یُو جانانه

د ځان سره مو جُخت دَ دائرو پهٔ سفر بیائی
دې خپلو خواهشونو کلک نیولی یُو جانانه

دې دَور کښې مو دا حواله هم غنیمت بوله
بس وُښکې یُو اؤ سترګو کښې راغلی یُو جانانه

تسنیمه ! حُسن واړه مو دَ زړهٔ دننه وُلید
پهٔ خدائې ، کهٔ کوهِ قاف ته پسې تلی یُو جانانه

---

دا خو زما زړهٔ انتخاب راوړهٔ
چې به دَ هغو سترګو تاب راوړهٔ

دومره دَ رنګ باران ته وُدرېدلو
مخ مو تک سور لکه ګلاب راوړهٔ

هر یو سړے مو پهٔ عذاب خوشحال وهٔ
هر یو سړی رالره عذاب راؤړهٔ



دَ خپل خپل مرګ خبر مو ځکه راوړهٔ
څهٔ به دې ښار خانه خراب راوړهٔ

څوک به اوس شګو کښې ټیکونه ګوری
پنډ دَ سرونو چې دریاب راوړهٔ

پهٔ توره شپه دې مړې دېوې راوړې
دا دې دَ کوم تپوس جواب راوړهٔ

کاش دَ وطن دَ وینو رنګ دې یاد وے
تا لهٔ دربار چې خطاب راوړهٔ

چې مسخرو دعوې دَ علم کړلې
مونږ دَ هغې زمانې تاب راوړهٔ

یاران لهٔ خپل سخنه وُشرمېدل
چې مې هر تورے انتخاب راوړهٔ

(خوشحال خټک ته نذر)

دُنیا ډکه لهٔ اَلمه
خوشحالی ده څومره کمه

خود سوزی کړې لکه شمع
اے زما دَ سترګو نَمه

سرې سکروټې مې سینه کښې
تربے راغلم لهٔ زمزمه

چې دې خپل ناشونې کاندی
بیا لهٔ غېرو دَ خېر طمع؟

ته دې دمه راسره ئې
افرین شه خپله دمه

خوب خو ستا اؤ زما نشته
خلق خوب کوی بې غمه



بې پړدې مو عمر تېر کړهٔ
پهٔ پړده کښې لهٔ عالمه

(ق)

تور څادر دے چې رپیږی
کوم ځائې پاتې لهٔ ماتمه

خورا یاده کربلا کړه
طمع اؤ لهٔ دې عالمه؟

هې توبه ئې دَ نېکۍ نه
هې توبه ئې لهٔ کَرمه

یو ښامار دے، وینې څښېښی
لهٔ عربه تر عجمه

—

لارې ستا دَ زلفو لارې
پېچ در پېچه، خَم در خَمه

بس دا یو حقیقت پاتې
دَ عشق لار ده محترمه

دَ خوشحال برکت غواړه
دَ تسنیم دَ لاس قلمه



چا حوصله راکړه اؤ چا مو حوصله وُلیده
تسنیمه ! مونږ ډیره بې دړده زمانه وُلیده

شپه ده اؤ شپه ده اؤ دَ زړۀ په رڼوځی روان یُو
نۀ موسم دشت ولیدۀ ، نۀ مو ښاریه وُلیده

نۀ د ښېرو ، نه دَ دُعا برکتونه پاتې
دا چې هر ځائې دَ بلاګانو موسایه وُلیده

سیند دے روان کۀ دَ سرونو کنډولی روان دی
چا مو دَ خاورې دا ویرژنه نذرانه ولیده

چا چې دَ نورو کچکولونو کښې جولۍ شنډله
نن مو دَ هغه فقیر لاس کښې هم کاسه ولیده

دَ ائینو پۀ مخ مو څومره ایرې وُشیندلې
دا مو پۀ څومره ناخوالۍ خپله څهره ولیده

بویه تسنیمه ! کۀ لۀ خپلو وینو وُشرمېدوُ
بویه کۀ مونږ پۀ غړېدلیو معجزه ولیده

چې دَ صافو اننګو ده
تماشه خو دَ کتو ده

یوه لاره ده دَ ویښو
یوه لاره دَ وودو ده

چې ماران دَ خزانو دي
دا دُنیا هم دَ هغو ده

(ق)

کجاوې دي دَ رېښمو
اؤ سپوږمۍ پۀ راختو ده

یَه درویشه خدا مسته !
قافله درنه پۀ تلو ده

چې ئې چرته نظیر نشته
زرۀ دے پیر ګنی پیر نشته



دَ فقیر نامه هم دا ده
چې نامه دَ فقیر نشته

دَ فقیر سکون هم دا دے
چې ئې بوج پۀ ضمیر نشته

دَ فقیر دَ لارو ګرده !
فقیر شته کۀ فقیر نشته؟

دَفقیر قېد ،ازادی ده
چې ئې پښو کښې زنځیر نشته

دَ فقیر جاګیر خو عشق دے
بل جاګیر دَ فقیر نشته

دَ فقیر سخن شکرې
نور خوارۀ اؤ تاثیر نشته

دا کلے ویښ دے خو کوی لکه وودۀ خبرې
ځکه پۀ زړۀ دننه پاتې شوې دَ زړۀ خبرې

دا ځل مې ښه تماشه وکړه دَ نیمګړی جهان
چا به دَ څۀ ارمان کوۀ ، چابه دَ څۀ خبرې

یا دغه خلق چې لۀ وسپنې هم سخت وُختل
یابه زما پۀ اواز کړلې دېوالۀ خبرې

کله نا کله پۀ خپل ځان پورې خندا هم راشی
دا چې لۀ ځانه مرور شمه پۀ نۀ خبرې

تسنیمه ! هر یو کیفیت دَ خپل وجود دننه
نۀ دا ګرمی کوی خبرې ، نۀ ساړۀ خبرې



دغه ګومان مۀ کړه چې نۀ سوزیږی
چندن ، اګر پۀ پټه خُلۀ سوزیږی

تاؤ دَ دي خپل وجود څۀ توقې نۀ دی
لۀ خپله تاوه چیناروۀ سوزیږی

لۀ خپل قامته دې ګیله کړی خلق
زما اؤ ستا نه دوئ پۀ څۀ سوزیږی

تر خپله وسه پورې لار وهل دی
تر خپله وسه وزر نۀ سوزیږی

تسنیمه ! مرګ پسې لاسونه مروړی
څوک چې دَ ژوند پۀ تنارۀ سوزیږی

ځار دَ سپرلی نه ئې وړمه قدرَ ته وانخسته
تاله درتلل اؤ چا چنبه قدر ته وانخسته

دو مره تادی وه دَ سفر دَ ماښامی پۀ شونډو
ستا لۀ منګلې چا بوسه قدر ته وانخسته

پۀ ماتو پښو دَ خپل کالۀ دُرشل ته وُرسېدو
وخت وؤ روان، مونږ ترې لحظه قدرته وانخسته

دا خپلې وینې مو ثلور اړخ ته وُشیندلې
اؤ خون بها مو کاسیره قدرته وانخسته

دَ جنتونو خواهش دوه ؤ سپېږمو له راوستلو
سړیو ! دَ ژوند نه مو مزه قدرته وانخسته

داسې دَ نمر طمعې ړاندۀ اؤ کاڼۀ کړی وو ټول
سړیو ! پۀ لاس کښې مو ډیوه قدرته وانخسته



زۀ مطمئن ، چې دَ هر چا پۀ رنګ کښې نۀ شومه رنګ
تاسره غم ، چا دې نامه قدر ته وانخسته

تسنیمه ! خلقو دَ مارانو اجازې غوښتلې
چا هم دَ مینې اجازه قدرته وانخسته

---

لۀ خپله خاکه پسې تګ چې کور برباد وکړے
تسنیمه ! داسې څۀ جادو دې پریزادو کړے

زمونږ پۀ شان وو اواره اؤ دړد پېدلی خلق
مونږ باندې ظلم کۀ دے کړے، پۀ زړۀ ښادو کړے

چې ستا پۀ قېد کښې دی ، هغوی څومره بې غمه وودۀ
چې ستا لۀ قېده دی ازاد ، فریاد ازادو کړے

ټول بامراده ،لۀ صدیو ماړۀ ګرځیږی
کۀ ارمان کړے دَ مراد ، خو نامرادو کړے

اوس ښا پېرى پۀ کشمالو نۀ کوهِ قاف کښې اوسى
تسنيمه ! ځائې پۀ ځائې سازَش دې ادم زادو کړے

---

ګويا دَ عشق پۀ وُچو ځانګو بيا بهار راغى
دا چې دَ هر يوۀ مجذوب مخې له دار راغى

ما چې سوچ وکړۀ ، کائنات دَ تنها يى نامه وه
ما چې هيڅ نۀ ګڼۀ ، هغه زړۀ مې پکار راغى

څوک چې دَ بل پۀ تماشه وۀ ، دَ هجوم سره لاړ
څوک چې هم خپلې تماشې ته وۀ ايسار راغى

هر څۀ جُدا ، چې دَ طلب لارې جُدا جُدا وې
چاله دَ زرو کان، دَ چا مخې له يار راغى

دغه دُنيا دَ سړيتوب معيار ته نۀ رسېده
نۀ بيا دا تا راغے ، نۀ رام اؤ نۀ اوتار راغى



لکه ښوره دېوالۀ ترمې ترمې ورژېدۀ
هغه تسنيم چې دَ دردمندو پۀ قطار راغى

---

لۀ بلې خوا راغلم اؤ بيا پۀ بله اووتمه
دا چې لۀ خپل کفنه څو څو ځله اووتمه

دې وُنو بوټو راته هره لار راؤښودله
زۀ پۀ تپوس تپوس لۀ دې ځنګله اووتمه

عشق کرشمه ده، ګنى بله کرشمه چرته ده
تا چې ښارله پۀ هغې دُرشله اووتمه

ما به دَ هجر دَ انا لۀ قبېده څوک وُباسى
لۀ خپله خاکه خوبه کله اووتمه

نۀ دَ خپل ځان په طرف وُم، نۀ دَ جهان په طرف
دَ دې بې خونده تماشې نه خپله اووتمه

زۀ چې په شونډو ګرځېدمه ، هيڅ پروا مې نۀ وه
زۀ هله ورک شوم ، چې دَ زړۀ له تله اووتمه

داخل راغلې دَ کوفيانو په صلاح رضا يم
تسنيمه ! خدائې زده کۀ له دې مقتله اووتمه



بيا درله هر څۀ درځې
حل کۀ دَ دې زړۀ درځې

تۀ ول تراخۀ زمونږ نصيب
تا له تۀ ول خوارۀ درځې

څوک چې په هيڅ نۀ در تلل
اوس په نيمه څُله درځې

خوب دَ زانۀ و مۀ وينه
تا له الوتۀ درځې؟

زۀ او دَ الف معنا؟
تا له ګنې نۀ درځې؟

يَه دَ هجر سرې سيلۍ
شرم درله نهٔ درځی

وي مې، دُشمنی مې زده
وي ئې، نور به ځهٔ درځی

وي مې، دَ تسنيم علاج
وي ئې کج بانهٔ درځی



څومره بې ځايه رژېده، څومره بې رنګه شوله
لاړه اخر دَ ښائستونو دُنيا ړنګه شوله

بس خو دَ لاس پهٔ اشارو به سره زړونه تش کړو
دا دَ ګونګيانو قافله کهٔ مو تر څنګه شوله

ښه ده اخر د ائينو دَ خندا ورځې راغلې
ښه ده دَ هر سړی څهره دومره بد رنګه شوله

څوک به چندن، څوک به لونګ دَ عشق دَ لارې وېشی؟
دا ښاريه کهٔ بې فقيره، بې ملنګه شوله

بيا دَ اسمان پهٔ وسعتونو کښې ورک شوی ښهٔ يُو
تسنيمه! دا وارې کهٔ زمکه پهٔ مونږ تنګه شوله

دا دې کوم یاد ته دَ ښو ښانګې راؤښندلې
تسنیمه ! لاړې اؤ لۀ خپله برمه پریوتلې

دغه ګردونه هم زمونږ دَ داستانو نو نه ډک
تا کۀ پۀ غور لږ زمونږه لارې وُښارلې

ستا پۀ دروغو باندې چُپ پاتې کېدۀ وو رواج
ستا پۀ ,, رشتیاؤ ، ، مې هم لۀ ځانه سره وُخندلې

یوه خوبی لکه ایمان مو سلامت ساتلې
نۀ مو قلم خرڅ کړے ، نۀ مو سترګې وُګنډلې

دغه دُنیا چې ښنګه وه ، پۀ هغه شان روانه
تسنیمه ! خپلو خواهشونو پۀ زړۀ وُداغلې



زمونږ دَ پاره قېد ، زمونږ دَ لاسو زنځیرونه
دَ هرې غاړې هار دی دا زمونږ محبتونه

دا شپه مو دَ درنو ښو پۀ حال باندی خبر ده
اے خوبه ! مونږ لیدلی پۀ هر خوب پسی خوبونه

وئېل ئې دَ تیارو پۀ ضد دَ چا مرسته لرې هم
وئېل مې دَ هوا پۀ وږو بار دی مشالونه

تسنیمه ! چې دا زیړ رنځوره نمر پۀ غرغره وۀ
مونږ وُشیندل دَ ژوند پۀ اننګو باندې رنګونه

یاران پۀ قافیو اؤ ردیفونو پسې ورک وو
تسنیمه ! چاته یاد وو دَ غزل نزاکتونه

زۀ او خواهش د ښاپیرېو دَ ښار
یعنی سینه کښِې شته سا ګانې دَ کار

مات مې ورمېږ لکه د مړاوی ګلاب
دا زۀ پانسی یم پۀ کوم ښاخ دَ بهار

جُرم به یو پۀ یو منمه اخر
زۀ لاس تړلے اؤ ستا لاس کښې مهار

ښه ده ، چې نور پیغمبران نۀ راځی
ښَه ده ، پۀ خپلو وینو رنګ ښۀ دے ښار

یَه زور اورو زړۀ مو وُچ اؤدلو
شوندې پرانیزئ ، کړئ خبره دَ کار



هغه هم زۀ وُم ، چې سېلاب پسې مې کور ګرځوۀ
دا دَ عشق پېټے مې دَ خپل زړګی پۀ زور ګرځوۀ

هر خوا چې تلم دَ خواهشونو کړی نۀ ختمېدې
هر خوا چې تلمه خو نظر مې ستا پۀ لور ګرځوۀ

خود به خالی منګُلې تلې لۀ ښارېې فقیره !
چې دَ انا کچکول دې هر ځائې کښې نسکور ګرځوۀ

ډېره پۀ ګرانه مو دَ قطب مرتبه موندلې
نۀ مو ګرېوان ، نۀ مو زخمی زړۀ کور پۀ کور ګرځوۀ

تسنیمه ! تګ وۀ یقینی لۀ بې یقینه کوڅو
چې مو پۀ دې غلبېل غلبېل سینو کښې اور ګرځوۀ

نۀ مو ملکونه غوښتۀ ، نۀ مو جاګيرونه غوښتۀ
بس دَ نازکو مهوشانو نه مو زړونه غوښتۀ

مونږه دَ خپلو ډوبېدو تماشه هم وُنۀ کړه
خلقو دَ سترګو سمندرنه هم لعلونه غوښتۀ

نۀ وو زما دَ زړۀ پۀ شان دَ شوخ وشنګوزړونه
چې ئې دَ عشق پۀ لويه لاره کښې حدونه غوښتۀ

چې اقتدا مو دَ ملنګ عبد الرحمن کړې ده
بيا به مو څۀ رنګ لۀ درباره خطابونه غوښتۀ

تسنيمه ! چاوې چې مېوې دَ صبر نۀ دی خوږې
خو محبت کښې چا دَ صبر تعويذونه غوښتۀ



تسنيمه ! ځکه مې پۀ سترګو کښې ساتل ياران
لکه دَ شګو دَ وخت لاس کښې رژېدل ياران

ما به تر کومې شرنګ دَ زړونه ساتل ياران
دومره پۀ لږه بېعه خرڅېدل ياران

دا ځلې بيادی دَ بادونو پۀ اسونو سوارۀ
نۀ چاته ګوری ، نۀ پۀ زمکه ايږدی پل ياران

څومره پۀ لويو ځُلو وړې وړې خبرې کوی
څومره نيمګړی ښکاری ، څومره مکمل ياران

رانه چاپېره ټول دَ پنجو پۀ سرونو ولاړ
چا وې زما تر قده نۀ رارسېدل ياران

څومره نا څاپه دې سبب دَ تنهايۍ وُپښتۀ
څۀ بې اختياره مې دَ ځُلې نه وُتل ،، ياران ، ،

دا حقيقت پۀ باخبره دېوالونو ليکه
تسنيمهٓ ! ستا پۀ اواز نۀ را خبرېدل ياران

کېدے شي ، چې په خوب کښې ئې ليدلي مرادونه
کېدے شي ، چې دا خلق په هوا ړدي قدمونه

کېدے شې ، بې مقصده مو دا لارې وي کچ کړي
کېدے شې ، اپو ته مو وي نيولي کچکولونه

کېدے شي ، چې مونږ ټول دَ رقابت سندرې وايو
کېدے شي ، هره ساه کښې مو ساه اخلي عذابونه

کېدے شي ، زمونږ هره اندازه به رسا نۀ وي
کېدے شي ، چې انګار ته مو وئېلي وي ګلونه

کېدے شي ، ستا پۀ نوم ئې تورې خاورې وي اغوستي
کېدے شي ، هجر زادو پټ پټ کړي ماتمونه



کېدے شي ، چې دې څُلۀ وي پسته کړې لېونوته
کېدے شي ، چې دې شاته وي نيولي زنځيرونه

کېدے شي ، چې د صبرهر تعويذ مو وي پۀ غاړه
کېدے شي ، چې ستا غاړې ته مو نۀ رسي لاسونه

کېدے شي ، دَ باګرام لۀ ترکو رقص وي هېر شوے
کېدے شي ، چې رحمن لۀ دړده نۀ کوي غږونه

کېدے شي ، چې تسنيم دَ تنهايۍ سېلاب اخستي
کېدے شي ، چې دې خلقو ورکاږۀ کړۀ ورمېږونه

ځان له وَهَم لار پیره !
چا ته شم ایسار پیره !

شین لوګے ، نۀ هو چغه
سوړ دے هر بازار پیره !

درد معنا بدله کړه
هر سړے قلار پیره !

شپه مې پۀ ځنګل ووده
شپه ، لکه تور مار پیره !

خوب اؤ خُلۀ یو ځائي غواړي
خلق ډېر هوښیار پیره !

سرې سکروټې خلې ته کړم
شی خپله اظهار پیره !

ق



رقص دے اؤ دَ وینو رقص
ښار تک سُور انار پیره !

هر دهمال اؤ حال کښې زۀ
سَریم دَ قطار پیره !

ق

کنده اؤ غر چاته یاد
ستا لاس کښې مهار پیره !

یخ یخ قدمونه ږدم
ګرځم پۀ انګار پیره !

ډېر به مې نرګس وُوخوښ
ښۀ یمه بیمار پیره !

زۀ چې دَ هیڅ کار نۀ وم
زۀ ئې کړم دَ کار پیره !

عشق خوارَوَل نهٔ کوی
کړی سړے ، سردار پیره !

یو تسنیم ډاډه وهٔ ډېر
هېر شهٔ اؤ کهٔ شمار پیره !

---

سبا رُوبه د اسمان کوی سېلونه
اؤ دې زړهٔ پهٔ زمکه وُلیدل خوبونه

سبا رُوبه د ځوانئ پهٔ خوب ووده وی
اؤ دا تږے زړهٔ به وکړی دیدنونه

سبا رُو به پهٔ صد یو کښې یوه ورځ وی
او پهٔ دغه وخت به کوی نازونه

سبا رُو به حال دَ زړهٔ دَ هجر وائی
اؤ ورو ورو به تېرې ورځې کړی ویرونه



سبا رُو به شهزادګۍ وی پهٔ داستان کښې
اؤ چا پېره به ګدېږی کردارونه

ق

سبا رُولکه شهد شوندې واکړی
اؤ لهٔ حلقه به تېرېږی جنتونه

سبا رُو به لکه سپینې متې پړق کړی
اؤ ړاندهٔ خلق به راؤړی بینازړونه

سبا رُو به مشک پهٔ دواړه لاسه نولی
اؤ چا پېره به فضا وهی موجونه

سبا رُو به د مسکا ګنجونه وېشی
اؤ دا سرهٔ ګلاب به ټک وهی لاسونه

سبا رُو به تور ګټان زلفې پرانیزی
اؤ چا پېره به ورېږی بارانونه

سبا رُو به کجاوه کښېني لونګ پاشي
اؤ دا دشتې به پهٔ ځان کوي نازونه

سبا رُو به کج حَبَش بانهٔ کړي پورته
اؤ عالم به دَ تيارو کړي منتونه

سبا رُو به د غزل مصرع کړي پورته
اؤ جوتې به خوری دا غرونه اؤ سيندونه

ق

سبا رُو به کړي نظر پهٔ ملنګانو
اؤ چاپېره به وي سترګې کچکولونه

سبا رُو به کړي نظر پهٔ مسافرو
اؤ دې خلقونه به هېر شي خپل کورونه

سبا رُو به اشاره کړي لېونو ته
اؤ دا روغ به پهٔ سرونولی رېګونه



سبا رُو به فېض د ژوند دَ لارو عام کړي
اؤ دا مرګ به روزانه مروړی لاسونه

سبا رُو به خواهشونه وي تسنيمه !
سبا رُو به وي پهٔ خوب پسې خوبونه

ملنګه چې دا خلق په تُندیٕ چرته روان دی؟
وئېل ئې ، دا دَ خپلو خواهشونو غلامان دی

ملنګه ! دَ لونګو څانګې لارې دَ چا څاری
وئېل ئې ، څو کم سنه دی ، لهٔ قافله را روان دی

ملنګه ! دا ګټان زلفې ، د رانهٔ بانهٔ اؤ ډک زړهٔ
وئېل ئې ، دغه ټول علامتونه دَ باران دی

ملنګه ! کوم یوسف ته دې لیدلے خوب بیان کړهٔ؟
وئېل ئې ، بس یو زهٔ اؤ دېوالونه دَ زندان دی

ملنګه ! محبت ګنی ببخی دلته نایاب دے؟
وئېل ئې ، چې نایاب نهٔ دے خو ډېرئې پهٔ ارمان دی

ملنګه ! ستوری څهٔ وائی ، چې زمکې ته راګوری
وئېل ئې ،د ساه ګانو جوارۍ وته حېران دی

ملنګه ! یو تسنیم پهٔ سخن فهمو پسې مړ شهٔ
وئېل ئې ، دلته واړه ,,دَ غالب طرفداران،، دی



ملنګه ! تور دَ سترګو وایه څه رنګه سپینېږی
وئېل ئې ، یو عذاب دَ انتظار پهٔ نوم یادېږی

ملنګه ! دَ کوم دشت هوا پر هر لره دوا ده؟
وئېل ئې ، پرهرونه پهٔ هوا کله رغېږی

ملنګه ! دا سپوږمۍ هم دَ چا یاد کښې ده ستومانه
وئېل ئې ، خو دَ ستوریو دا ځنګل پرې نهٔ خبرېږی

ملنګه ! دَ دریاب دوه غاړې هم چرې یو شوی؟
وئېل ئې ، زندګی خو بس پهٔ هجر تمامېږی

ملنګه ! دَ رباب ژړیدهٔ کله زړهٔ راکنی
وئېل ئې ، چې دا شپهٔ اؤ تنهائی کله یو کېږی

ملنګه ! پهٔ اخبار کښې یو خبر هم زمونږ نشته
وئېل ئې ، روغ عالم زمونږ پهٔ دړد کله خبرېږی

ملنګه ! دا دَ کومې دروازې خوا دې نیولې؟
وئېل ئې ، بس تسنیمه ! خوشبوئی ترې راخورېږی

وئېل ئې ، دا خفه درنه په څه شی ښاریږي دی؟
وئېل مې ، دواړه لاس کښې مې نیولې ائینې دی

وئېل ئې ، دا دَ کوم بدن خوشبو در پسی راغله
وئېل مې ، ستا له مخه خوشبویانې راپسې دی

وئېل ئې ، محبت له قبضه ډکه استانه ده
وئېل مې ، ستا دوه شونډې ئې شیرینې دروازې دی

وئېل ئې ، زما هجر یوه لویه مدرسه ده
وئېل مې ، ستا دَ وصل هم نایابه تجربې دی

وئېل ئې ، په خندا کښې تور لونګ شیندې لګیائې
وئېل مې ، دا هم ستا دَ قربتونو کرشمې دی



وئېل ئې ، ماتې څڼې راغلمه دا چرته ؟
وئېل مې ، دَ دې خلقو زړونه نهٔ دی هدیرې دی

وئېل ئې ، نهٔ دې زور شته نهٔ دې زر اؤ عاشقی کړې
ئېل مې ، ملنګانو نه مې کړې لاس نیوې دی

وئېل ئې ، غټو غټو کتابونو کښې څهٔ ګورې؟
وئېل مې ، د خپل ځان لټون عذاب لمحې دی

وئېل ئې ، لړ را دېخوا شه ، دا زړهٔ دې دَ کتو دے
وئېل مې ، زړګے څهٔ دے ، خو دَ وینو سرې ولې دی

وئېل ئې ، دَ غزل لهجه زخمی لرې تسنیمه !
وئېل مې ، دَ وختونو خندا ګانې راپسې دی

ستړګې مشال لرم ، نۀ لاس کښې مې ډیوه ملنګه !
لکه د هجر دَ شپې هره لار وورېده ملنګه !

ښَه ده ، چې هره کربلا مو لۀ نزدې وُلیده
ډېره مو کړې وه لۀ ورایه تماشه ملنګه !

څومره بې وسه ننداره مو دَ بازار وُکړله
چرته ارمان ، چرته خوبونه مو ګانه ملنګه !

دا خلق ساه نۀ اخلی ، مرګ ته ورځې شپې لنډوی
دا جهان نۀ دے ، دا جهان دے هدیره ملنګه !

ډېره اسانه ده ، بیا دلته ګُذاره ملنګه !
بس خو لستوڼے ورکوه اؤ لاس ساته ملنګه !

هره څهره ده ، دګومان پۀ اډانه ولاړه
هر تعلق دے ، لکه تېره زمانه ملنګه !

توره تیارۀ ده اؤ یاران دی دَ مارانو پۀ شان
تۀ پۀ چا ملاتړې ، تۀ خپله لار وَهَه ملنګه !



زمکه روانه ده اؤ خاورې پۀ سرونو نولی
خلق ولاړ دی ، دَ خپل ځان پۀ تماشه ملنګه !

دَ ښاپېریو لۀ بور جله داسې مۀ تېرېږه
کۀ سپېلنی نۀ وی ، نو مالوګے کوه ملنګه !

یا خو دَ هر سړی زخمونه کشمالی نۀ سپړلی
یا محبت دے ، خپله خپله تجربه ملنګه !

دغه چې لاس تر زنې ناست دے ، لۀ حېرته ګونګ دے
دغه سړے وۀ ،دَ خپل دور شهزاده ملنګه !

خوب مې لېدۀ اؤ دَ دې خوب پۀ معنا هم پوهېدم
لارمې لیده اؤ رانه لاره ورۀ کېده ملنګه !

ورځ دَ تسنیم غوندې پۀ نۀ زړۀ پۀ خندا تېروه
چې نیمه شپه ، خپل زخمونه نۀ دې شمېره ملنګه !

یو تهٔ دَ قدر شپهٔ کښې بلېدلې لونګينه !
دا لپې چې مې پورته وې نيولې لونګينه !

مودونه دَ تيارو لهٔ ځنګلونو راتېرېږو
مودونه مو سپوږمۍ پهٔ پال نيولې لو نګينه !

هر کاڼے اؤ هر بوټے به زمونږ سندرې وائي
تهٔ بيا کهٔ لهٔ دې دشته تېرېدلې لونګينه !

هر څوک دَ خپلې برخې دَ عذاب سره پهٔ جنګ وۀ
زمونږه لارې کوم سرې څارلې لونګينه

دا واورې اؤ ورېځې اوس دَ څهٔ دَ پاره ووری
دا زمکه ده پهٔ وينو لمبېدلې لونګينه !

ړندوته مو دَ ګل د نازکۍ کړۀ صفتونه
کڼوته مو دَ کورتمبې وَهَلې لونګينه !

تسنيم او د تسنيم پهٔ رنګې ډېر دَخلقو هېر وو
يو تهٔ وې ، چې لهٔ چانهٔ هېر بدلې لونګينه !



لمبې دی پورته کيږي لهٔ زمينه لونګينه !
حذر لهٔ دې ازغی سپرلی نه لونګينه !

دې درستې ښارېې ته څوک دَ زړه حالونه وائی
ګيله دَ سړی کيږی ، دَ سړی نه لونګينه !

دا ځکه نهٔ يقين اؤ نهٔ دَ ژبې برکت شته
چاوُنهٔ کړه يوه خبره سپينه لونګينه !

ناشونې ده ، خو مونږه ته ناشونې نهٔ ښکارېږی
دا زهر چې را څاڅی لهٔ ګبينه لونګينه !

تسنيمه ! ښکته پورته دَ باګرام عزيز خان دی
زړۀ څهٔ کوی ، دُنيا پهٔ زَر مئينه لونګينه !

فرهاده ! دَ زړۀ وینې دې شینده لکه رنګونه
فرهاده ! چا دَ پیو بهیولَی دی نهرونه

فرهاده ! زندګی دَ غړېدلو سترګو خوب دے
فرهاده ! چا دَ باد پۀ وږو ایښی دی سرونه

فرهاده ! بس ګلاب خوبونه مو سینو کښې
فرهاده ! نۀ شیرینه ده زمونږ ، نۀ جنتونه

فرهاده ! هر یو شے دَ جُدایۍ سندرې وائی
فرهاده ! دَ دې غرۀ نه اوس راخیژی اوازونه

فرهاده ! دَ خپل ځان اؤ دَ دُنیا مینځ کښې ولاړیو
فرهاده !ارمانونه مو دَ زانو قطارونه



ق

فرهاده !ګېر چاپېره فاسقان و فاجران دی
فرهاده !دا دَ چا پۀ لاس راغلی هنرونه

فرهاده !واپس نۀ راځی دَ زړو لۀ بازاره
فرهاده !ځۀ ارزان شُو دَ یارانو ایمانونه

فرهاده !ډول باجوته پۀ ګډا هم آسره نۀ کړی
فرهاده !دی موسم راؤړۀ کچه خویونه

فرهاده !دَ خوشحال اؤ د تسنیم قیصه یوه ده
پۀ ژوند لکه تېشیۍ مو چَلَولی قلمونه

مرشده !دا دې کړې کوم جادو اؤ کوم افسون دی
وئېل ئې ، محبت خو دحېرت دَلارې يُون دی

مرشده !دَ معنو پۀ ځنګلونو کښې دې ورک کړم
وئېل ئې ، زندګی خو نوم دَ ورکې اؤ لټون دی

مرشده ! دا زړګې ولې نرې نرې دوړېږی
وئېل ئې ، هر ارمان دَ نيمې لارې نه راستون دی

مرشده ! دَ طلب چينې مې سترګو کښې وُچېږی
وئېل ئې ، د طلب سفر خو رود دَ ځيګرخون دی

مرشده ! زۀ هم ګل وُم ، پۀ بڼو مې خاورې راوړې
وئېل ئې ، ګل اؤ خاوره محترم غوندې ترون دی

مرشده ! زمونږ خپلې مجبورۍ ، دَ دُنيا خپلې
وئېل ئې ، دَ دُنيا کله زمونږ پۀ لاره يُون دی



مرشده ! د سرونو شمېر پکار دے کۀ دَ زړونو
وئېل ئې ، زړۀ چې زړۀ وی ، نو يو هم ګنج دَ قارون دی

مرشده ! پرون بل څۀ ائينې وئېل ، نن بل څۀ
وئېل ئې ، محبت کښې څۀ حساب دَ نن پرون دی

مرشده ! دَ مستۍ نه پۀ يوه پونده تاوېږم
وئېل بې ، دَ عشق هره ننداره کښې زړۀ رابښکون دی

مرشده ! هار دَ تکو سپينو لېچو مې پۀ غاړه
وئېل ئې ، پۀ خوبونو کښې دا خوب دې نېک شګون دی

مرشده ! دَ رنګونو پۀ تالونو کښې جُوتې خورم
وئېل ئې ، هجر زاده پۀ نصيب دې سباؤن دی

یو عام غوندي سړے وۀ ، قلندر نۀ وۀ مرشده !
تسنیم خو ستا د کرښو نه بَهَر نۀ وۀ مرشده !

دا خدائي خبر دَ کومو دُعا ګانو برکت دی
زما خو پخپل ځان دومره باور نۀ وۀ مرشده !

منمه چې دا ښار دَ بربادۍ په لور روان وۀ
هیڅ نۀ وو ، خو زړۀ دا سې هم کنډر نۀ وۀ مرشده !

یوزۀ دَ مدح خوانو پۀ هر بار کښې کوږ لړګے وُم
زده کړے مې بس دغه یو هنر نۀ وۀ مرشده !

ساتلی ئې پۀ شونډو دروغژنه هر کلی وو
خلاص کړے چا دَ زړۀ دَ قلا وَر نۀ وۀ مرشده !

دې مرګ چې لۀ کافورو جولۍ ډکه وه راوړې
دا ټول کلے خبر وۀ ،خو خبر نۀ وۀ مرشده !

خبر چې شۀ دَ هجر د کیمیا لۀ خاصیته
تسنیم خاورې ایرې وۀ ، بیا سرۀ زر نۀ وۀ مرشده !



درویشه خدا مسته !دَ جهان پۀ زړۀ کښې څۀ دی؟
وئیل ئې ، پۀ خلا کښې تر مطلبه رسېدۀ دی

درویشه خدا مسته !دَ وجود نه مې شغلې ځی
وئیل ئې ، محبت خو رنګ اؤ نور کښې الوتۀ دی

درویشه خدا مسته !جدائۍ ته مې زړه کیږی
وئیل ئې ، جدائی خو پۀ سکروټو ګډ ېدۀ دی

درویشه خدا مسته !د حدونو حد هم شته دی؟
وئیل ئې ، د حدونو حد نه اخوا ته هم څۀ دی

درویشه خدا مسته !قندهار دے اؤ انار دی
وئیل ئې ، دغه خوب دې پۀ جلوه کښې ورکېدۀ دی

درویشه خدا مسته !حال دَ عشق دَ وطن وایه
وئیل ئې ، سینه داغ وړی ، کۀ ځوانان دی کۀ زاړۀ دی

دروېشه خدا مسته !پۀ صد بو باندې محيط يم
وئېل ئې ، صدې څۀ دي خو دَ شګو رژېدۀ دی

دروېشه خدا مسته !لعل دَ هر سړی نه ورک دی
وئېل ئې ، زندګی خو د بارې خړې اوبۀ دی

دروېشه خدا مسته !دَ تسنيم سترګې نرګس شوې
وئېل ئې ، دَ عشق رنځ خو دعشاقو دَ مخ سرۀ دی



داچې پۀ توره شپه روان دے اؤ توبې وُباسی
تسنيمه ! څوک خو لۀ ظالمه ښاره پښې وُباسی

دغه سړے چې محبت پېژنی ، خدائې پېژنی
نۀ ئې چهلې دی لګولی ، نۀ چهلی وُباسی

څومره عجبه ده ، د هجر دَ ماښام تماشه
تا پۀ هغې لارې وُباسی ، ما پۀ دې وُباسی

بس خو تسنيم دے ، ساه ډوبې زغمی اؤ ژوند تېروی
خلق لګيا دی ، رُخ دَ باد ته دروازې وُباسی

وېئې ، څهٔ دی په دُنیا ښهٔ
ما وئېلې صورت ستا ښهٔ

وېئې ، ښَه بې خبری ده
ما وئېلې خبر لا ښهٔ

وېئې ، رنځ دې کوم پکار دی
ما وئېلې، لا دوا ښهٔ

وېئې ، زخم کوم یو غوره
ما وئېلې بس زما ښهٔ

وېئې ، څومره دې یاران دی
ما وئېلې زهٔ تنها ښهٔ



ښه پوهېدم چې یو په یو دَ حافظې نه ووځی
دا پریزاد به یوه ورځ دَ دې وودې نه ووځی

څوک لېونی دی ؟ چې دُنیا ته دَ زړهٔ حال اووائی
څوک لېونی دی؟ چې دَ زلفو د حلقې نه ووځی

لارې تمامې کله دشت ، کله ځنګل ته رسی
سړے په څهٔ پسې دَ کور دَ ویرانې نه ووځی

بیا دسمبر دے اؤ زهٔ بیا دَ خاورو څلی شمارم
څومره په پټه خُلهٔ یاران دَ قافلې نه ووځی

هر چاد خپل ذرې وجود نه غبږه تاؤ کړه
څوک به اخر دَ کومې کومې دائرې نه ووځی

څهٔ عجب زور دے دَ جلوؤ اؤ پلوشو اتڼ کښې
تسنیمه ! قطب هم دَ خپلې استانې نه ووځی

سړے هله پېژندۀ شی

پلار مې ؤبخښې
هغۀ به کله کله ځینې وکړله خبره
لکه وی د کاڼی کرښه
وې ئې ، ګوره
مار که شل وارې ، زرواری وفادار شی
خو باور ورباندې مۀ کړه

—

چې دې ناسته اؤولاړه ورسره شی
چې د روند پېټے درسره پۀ وُږه واخلی
د سړی پېژندګلو خو هله کیږی
ځار قربان خو دیاری پېمانه نۀ ده



دُعا ګانې کۀ قبلیږی
خاورې بیا د بارانۀ خوشبو رانولی
بلا ګانې پۀ اعصابو راخورې دی
ټول سیندونه اؤ خوړونه اؤ روؤنه
حق حېران دی دا اووۀ سمندرونه
ډوبه ډوبه تنهائی ده ـ جهانونه
ډک لۀ دردہ ماښامونه ـ داستانونه

—

د بلۍ څوکې له راغله
د سپوږمۍ د رڼا زېری پۀ خندادی
زړۀ نرے نرے خوږیږی
د رنګونو پۀ ټال ځانګی ټول یادونه
دُعا ګانې کۀ قبلیږی ـ دائې وخت دے

## نظم

(دَ هغو ټولو يارانو په نوم چې ماله ئې زما په رنځ کښې
حوصله راکړې)

—

وخت وړه شان تماشه راؤښودله
يو ځيګر وۀ په صفت ئې مړېدم نۀ
دې ځيګر د بې هوشۍ په سکون موړ کړم
دهر يار ستر ګو کښې څومره بې وسی وه

—

زۀ لۀ ځانه، لۀ جهانه ناخبره
خدائې خبر دَ کوم وطن مې کړۀ سېلونه
خدائې خبر چرته مې ايښی قدمونه
دمراد ګلونه ځائې په ځائې پراتۀ وو
د دُنيا دا مخلوقات واړه کاڼۀ وو
هجر زاد چې څومره وو واړه ړاندۀ وو



## زۀ به واپس راځمه

(دَ چلی نوموړی شاعر پابلو نرودا ته نذر)

—

زۀ به واپس راځمه
چې زندګی ـ د زندګۍ په شانې نۀ ده تېره
دا مرګ ـ د مرګ په شان ترمارار سېدلے نۀ دے
دې وُنو، بُوټو اؤ دې لارو زۀ هېر کړے يمه

—

چې د سپرلی د سرو ګلابو سېل کښې
يا د خزان د وُچو پاڼو په منظر کښې درنه
ورک نۀ شمه
دلېونی سړی د خوب په رنګې
د ملنګانو د دونهی د شين لوګی تر څنګه
ددې چرچڼو، توتکرو، تورانکو آوازونو کښې مې وُلټوئی

—

زۀ به واپس راځمه
دَخاورې خوند مې سم څکلی نۀ دے
نو دَښائست دَ مملکت قلوپطره ته وایه
چې دَزلمو دَ وینو تنده دې پۀ شونډو ساتی
چې زندګی۔دزندګۍ پۀ شانې نۀ ده تېره
چې مرګ۔دمرګ پۀ شان ترمارا رسېدلی نۀ دی

## څانګه

یو عامه واقعه ده
دغریب دهقان پۀ کور کښې یو لُور وه
چې پۀ څانګه نومېدله
اؤ د پلار پۀ کور وه پاتې۔زَړَه شوې
د ځوانۍ سپرلی ئې ټول وو رژېدلی
اؤ دمخ ګونجې یې خپله وو پرانستی کتابونه

---

څانکه څۀ وه۔خو د نیمې ګېډې ژوند وۀ



چرته چاکره نمړۍ نیمه خوړلې
چرته چانه پۀ سوال غوښتے زوړ قمیص
پۀ غاړه کړی

---

یو ورځې څانګه مړه شوه
اؤ د خان پۀ خېراتی کفن کښې لاړله لحد ته
خود څانګی پۀ مرګ هیڅوک خفه نۀ وو
خلقو وې۔زمکه ده ډېره پړده پوښه
خلقو وې چې۔مرګ هزار ځله بهتروی
د نېستۍ نه
هره ورځ
هره ورځ پۀ دغه لاره راتېرېږم
هره ورځ مې دغه خیال پۀ زړۀ کښې ګرځی
خواهشونه لکه سپینې مرغابۍ وی
درنو اوبو پۀ سر باندې روانې
پۀ هر بام ده ستا د مخ سپوږمۍ ولاړه
ستا د سترګو ستوری ځائې پۀ ځائې پړقیږی
وایم زړۀ کښې مې لونګو څانګې ؤکړې

وایم سرهٔ ګلاب وریږی لهٔ اسمانه
وایم دادے تامې لاس پهٔ ؤږو کېښود
وایم خاوروته چې وګورم سرهٔ زر شی
وایم دادے ما کافر هم ایمان راؤړهٔ
وایم دادے نا څاپی مخې له راغلې
وایم دادی تا یوه خبره وکړه
ټول جهان لکه د مست ملنګ ګډیږی

---

هره ورځ پهٔ دغه لاره راتېرربږم
هره ورځ مې دغه خیال پهٔ زړهٔ کښې ګرځی
تورې څڼې لمحې کومه لار کښې پاتې
وخت پهٔ شګود کوچیانو د اوښ پل دی
د اوښ پل پسې پهٔ دشتو باندې سر یم
تماشه ده ، څهٔ بې نومه تماشه ده
ستومانی ده رانه غبږه چاپېر کړې
ارمانونه ته مې ډډه ده وهلې
منظرونه مې د سترګو نه خوئیږی
موسمونه دی ، بدلیږی را بدلیږی



---

هره ورځ پهٔ دغه لاره راتېرېږم
هره ورځ مې دغه خیال پهٔ زړهٔ کښې ګرځی
دا مرغیۀ هم مانه ښې دی چې بې غمه
خپلو جالوته ماښام پهٔ وخت ستنې شی
ددې ښار څلور ګوټونه دی اؤزهٔ یم
لا د خپلې برخې رزق پسې ګرځم
ورځ ده تېره ، شپه هم داده نیمه لاړه
د خپل کور درشل ته نهٔ یم رسېدلی
زړهٔ کښې پاتې شوې قیصې د ښاپېریو
زما دوه ستوری بچی به اوس ووده ؤ وی
هره ورځ پهٔ دغه لاره راتېرېږم
هره ورځ پنډه د خوبونو راؤړم کورته

## ځینې رنګونه

ځینې غمونه پۀ ظاهره ډېر واړۀ ښکارېږي
خو حقیقت کښې د زغملو نۀ وي
ځینې یاران وي د دُعا سلام ترحده پورې
ځینې نقشونه اؤ کړۀ وړۀ وي لکه عام واقعات
خو کله کله خو بېخي د هېرولو نۀ وي

—

ځینې خوبونه د تعبیر د پاره نۀ وینی څوک
ځینې خوبونه د چا مخکښې د وئیلو نۀ وي
هره خبره څوک د عقل پۀ کنډه نۀ تلی
ځینې خبرې چې رشتیا وي
ولې بیا هم د منلو نۀ وي
ځینې لفظونه د معنې لۀ محتاجۍ ازاد وي
ځینې لفظونه پۀ لغت کښې د موندلو نۀ وي
ځینې رنګونو کښې سړے وائی چې والو تلی
خو ډېر رنګونه دا رمان د رڅولو نۀ وي



## د یقین سفر

چې را خورې به شوې د ژمی د شپې یخې تیارې
نو د تک سور انګارنه ډک یو انغری پۀ غاړه
مونږ چې واړۀ وو، نو د نیانه به چا پېره ناست وو
اؤ چې به نیا پۀ خپله لنډه ساه اؤ ستړې لهجه
یوه قیصه د جادوګرې شهزادګۍ شورو کړه
نو به د هر یو کس نه مازیاته پۀ شوق اورېده

—

نیا به وئیل، د کوهِ قاف سره پۀ خوا و شا کښې
یو مرمرین وجود لرونکی شهزادګۍ وُسېده
چې د ښائست د جلوؤ تاب ئې چا راوړلے نۀ شۀ
اؤ د ځنګل نه چرته ښار ته پۀ سفر راغلی
یوۀ جوګی وۀ شهزادګۍ ته داسې جوګ ښودلی
چې به پۀ کوم زلمی ئې چف کړۀ نو د سترګو رپ کښې
هغه به نیم د غوښې پاتې شۀ اؤ نیم د کاڼی
اؤ چې به نیا قیصې دې ټکیو ته وُرسېده
نو ما به څو مره پۀ یقین سره سر وُخوزوۀ
چې پۀ قیصه د جادوګرې شهزادګۍ مئین وُم

اؤ نن پۀ دغه یو څوتکیو هم د دغه قیصې
هغه ساده ، هغه معصوم یقین مې څومره پوخ شۀ
چې مې خپل نیم بدن دَ کاڼی دی اؤنیم دَ غوښې

## تسلسل

دَبارې اوبۀ نری نری فریاد کوی بهیږی
یو سرے دی
پۀ وُچته تږه ناست دی
د بارې اوبو ته ښکته ښکته ګوری
چې دَ ژوند دَ ورځو شپو پۀ شان بهیږی
نۀ پۀ جیب کښې ئې درهم شته
نۀ دینار لری پۀ کور کښې
لۀ بهاره بې پروا دی
لۀخزانه بې پروا دی
کوږد ستارئې پۀ سر ایښی



لۀجهانه بې پروا ، لۀ شاه جهانه بې پروا دی
پۀ ظاهره دے ملنګ ، پۀ زړۀ باچا دی
دا ملنګ - چې دَوړولویو بابا دی
درست باګرام د هغۀ کور دی
پۀ دې کور کښې رنځوران ورته پراتۀ دی
خو د هیچا پۀ دوائې لاس نۀ رسی
رنځ څۀ داسې عجیبه دی
چې لقمان پرې نۀ پوهیږی
نۀ د ورځو ،نۀ دمیاشتو ،نۀ د کال دی
د صدیو یوه وږده ستړې قیصه ده
رنځ څۀ داسې عجیبه دی
چې هر څوک پۀ خپل شه رګ چاړۀ راکاږی
اؤ د خدائې شکرؤ باسی

---

پۀ سوونو کاله پس هم
د بارې اوبۀ
هم هغسې نرے نرے فریاد کوی بهیږی
اؤ ملنګ د خپل زړګی پۀ شان

تک سپین څادر اغوستی دے وودۀ دی
چې لۀ سوخته خاموشی هم
علامت د احتجاج وی اؤ لوئې طنزوې
اؤ دا طنز پۀ درست باګرام پۀ درست عالم دی

---

دوطن عزیز خانان دی ښۀ پۀ چُرت کښې
لۀ هغوی چاپېره هاغه هاؤهُو دے ،هاغه شوردی
چې دې شور کښې ساه ډوبیږی
بس غوږونه کاڼۀ کیږی
بس سرے لېونی کیږی
اؤ دې دومره لوئې ماتم کښې
دباړې اوښۀ نری نری فریاد کوی بهیږی



## زۀ هلۀ زۀ یمه

ما به هم داسې څنګوې لکه د غاړې لاکټ
ما به هم داسې رژوې لکه تازه سرۀ ګلاب
ما به هم داسې بادوې لکه رېګونه د لار
ما به هم داسې رنځوې لکه د عمر رنځور
ما به هم داسې خندوې لکه سپړدلې کلۍ
ځکه چې ټول فکر مې جمع پۀ یوه نقطه دے
زۀ هلۀ زۀ یمه چې ستا پۀ اډانه ولاړیم
داژوند خو ستا د محبت یوه وړه ټوټه ده

## المیه

یو دوست ـــ چې زۀ ورته پۀ کال کښې چرته نۀ یادېږم
خو چې پۀ مخه کله راشی ، یامو هسې چرته
اتفاقاً ملاقات وُشی نو راغاړه وُځی
څۀ عجبه ادا کاری ئې وی پۀ مخ اؤ وائی
هلکه اوس مې یادولې چې تسنیم خدائې خبر

چرته کښې غېب دے چې ئې هيڅ پۀ پته نۀ پوهيږو
دغه دے راغلې ګورے خدائېګو چې دې عمر ډېر دے
مونږه غريب سهى خوستا خوپۀ يارانو کښې يو
تۀ کله کله خو زمونږه خبر اخله کنه

—

زۀ ورته بُت هسې ولاړيمه ،داهرڅۀ اورم
خو پۀ خُلۀ چپ يم اؤ پۀ زړۀ باندې راکاږم غنې
چې د يارانو رائې ده، زه شيشه مزاج دومره يم
چې کله کله ټول حدونه کړم د پښو د لاندې
ځکه نوزۀ هم جواباً اداکارى کړمه۔اؤ
د ناخوالى نه ښۀ پۀ زوره زوره وُخاندمه



## نظم

دزړۀ پۀ تل کښې يوه داسې نغمه وُشوربده
چې د مودو د خاموشى يخ زنځيرونه پرې شو
دهغو سترګو د اقرار د اوربدلو نه پس
پۀ هر يو خيال مې باران وشۀ د اووۀ ورنګونو
ټولو جذبو د يوۀ بل پۀ وُربو سر ايښے دے
کله حېرت ،کله مسکا ، کله عجب اضطراب
دخپل نظر د ګلابى لېچو حصار کښې ولاړ
مخ نه شغلې خېژى ، لۀ شونډو خوشبوئى څڅيږى
سحر ماښام د ائينې نه سترګې نۀ وُباسم
څۀ عجيبه نرګسيت مې پۀ وجود راخور دى
د يونانې ديوتا پۀ شانې پۀ خپل ځان مئين شوم
چې يوې داسې مه لقامې لاس کښې لاس راکړۀ
چې د هغې تر څنګ د ټولو محروميو باوجود
هر څۀ چې وى ، سرى د خپل قد نه سېوا ليدۀ شى

## نظم

سپوږمۍ د خپل ګرېوان تمامې تنۍ پرانستلې
اؤ بې موسمه سپرلو
څومره پۀ شوق پرې د ګلابو پاڼې وُشيندلې
تورو لونګو د فضا پۀ ساه قبضه وکړله
د زلميتوب د بدن هر اندام ميګې ميګې شۀ
د عمر تږې آرزو
پۀ هوسی سترګو چاپېر وُکتل
خو د تمامو نظارو جواب کښې
زندګۍ يو چونګ وينه وُتو کله

هم دغه زندګی ده

پړ قا پړ وق دے دَ بلبلو نو
خواهشو نه بېدارېږی
تور پيکی دی خوری ټالونه پۀ ترتيب کښې



سپينې متې – لکه سپينې تورې ځلق وهی هوا کښې
ګل ځانګونه دی ، غور ځيږی راغور ځيږی
تنګ لباس نه دَ نر يو ملاګانو زېروبم عيان دی
پۀ وروستيو پښو ولاړ ، واګې راښکلی
مست اسونه
لۀجذباتو ډکې پېغلې سينې الوځی لګيا دی

----------

دائرې دَرقص خورې شی کله غونډې
اسمان زمکې ته راټيټ شی
زمکه دغه دۀ لۀ خپل محوره لاړه خطا کيږی
زور دَ حسن دے قامت دے کۀ قيا مت دی
سر اؤ تال دی
اؤ څلور واړه اطراف وهی ټالونه
يو حېرت دے عجيبه جادوګری ده
کۀ مړنه ئې نو هم دغه زندګی ده

## Double shift duty

تسلسل دَ ستړيو شپو اؤستړيو ورځو
ژوند شفټونه دی۔
بد ليږی رابد ليږی
مودی وشوې
دَشوګير توري ايری دی درشيندم ئې
ړندې نۀ شوئ زما سترګو تکوسرو سرو
ارمان ژنودَ خوبونو

### دَ خوشحال خټک پۀ نوم

اے د توري اؤ قلم علمبرداره !
اے دَ پت اؤ دَ انا نه ډک داستانه !
اے د فن دَ ښاريې واحد سرداره !
اے د خپل دَور حکيمه ! ای نباضه !

تۀ خفه نۀ شې خو نن هم هغه حال دے
پۀ وُږو مې پرته خپله جنازه ده



هغه لوبه ده زما پۀ خاوره ګرمه
دَ دُنيا عالم له جوړه تماشه ده

—

چې کوم اور تا دَ اورنګ کور له وۀ وړے
هغه اور مونږه راوړے دے خپل کورته
شول ستی پرې دَ مودو مودو خوبونه
پکښې وسولې ستا توري ، قلمونه

—

چې ما وژنی ټولې توري مقدس دی
خو زما مزاحمت هم کافری ده
دَ اورنګ پۀ مخ نقاب دَ اسلام پروت دے
مذهبی دلالان ټول زما دَ چم دی
دَ تاريخ مې هره پاڼه فريادی ده

—

پښتنې به زلفې څۀ وُنيسی باد ته [۱]
چې دَ مشکو پۀ ځائې بوئی ترې دَ بارودځی
چې بادونه پۀ خيبر باندې راواوړی
بوئی دَ سوو غوښوراوړی پېښور ته

دَ ځو پاکو عقیدو لۀ برکته
دَ قاتلو نظریو لۀ برکته
ګټه نشته ، پۀ نصیب مو دے تاوان
،، چې زما پۀ خېلخانه ، پۀ اولس وُشول
وُدې نۀ شی پۀ هندو ، پۀ مسلمان،،[۲]

دَ منصب دعوی ګیر نۀ پۀ قلار ناست دی
خو کۀ مری ، زما چینار چینار ځوانان مری
دَ دستار ترلو هر سړے دعوې کړی
قات راغلے خو دَ زړۀ دَ خاوندانو

ـ

دَ شینوارو ، دَ ختکو تپوس مۀ کړه
دَ مومندو ، یوسفزیو خوندو نه نشته
حال هغه دے چې ئې حال وئېلے نۀ شم
دَ کوځې ګټ ئې پخوا رقیب ته پرېښے
اپریدې اوس اپریدو ته خبر نیسې [۳]



۱: د خوشحال ختک شعر ته اشاره ده.
۲: د خوشحال ختک شعر ته اشاره ده.
۳: د علی خان شعر ته اشاره ده.

۱۹۹۵

## یو ارمان چې مکمل دے

ځو بُتان دی
پۀ البم کښې ، پۀ کمره کښې ،دروازه کښې
اؤ زما د ډائرۍ هره صفحه کښې
ګېر چاپېره ،هرګټ پېر ،هره کوځه کښې
اؤ زما د بُت پرست زړۀ دغه لویه بُت خانه کښې
د نظر پۀ هره لاره
لکه ستوری پۀ قطار کښې پۀ یو بل پسې روان دی راته
خاندی

———

ځو بُتان دی

مه لقادی ،خوش زبان دی ، خوبرویان دی
یو د بل نه ښائسته دے
د جمال اؤ د ځوانۍ پۀ پېمانو باندې پوره دی
پۀ وړه وړه ادا ئې
زمکه رقص کوی لګیا وی ،آسمان چورلی
ټول زماتندی ، زما سترګوته ځیر دی
پکښې ګوری د سجدو اؤ شوګیرو
د خپلو برخو نشانونه اؤ خوبونه
دا بُتان چې راته خاندې
دا بُتان ، دا تصویرونه
د ځوانۍ نه ډک ګبین ګبین خوبونه
دا ولاړ ټول خواهشونه مې د یو ارمان نه ځار کړۀ
یو ارمان ـــ چې مسلسل دی
یو ارمان ـ چې دژوندون تر اخری پړاؤ مزل دی
یو ارمان چې مکمل دی



## ارمان

ما لۀ بلها خپلو خپلوانو اورېدلی داسې
زۀ چې ایله ؤم د خړپوسو ،ښائسته وُم دومره
موربه لۀ وېرې ماله سترګې تورولے نۀ شوې
خوئېندو به ماته سپېلنی لُوګے کول اؤ پلار مې
دهر مُلا نه تعویذونه اؤ ساختونه راوړۀ
ـ
اوس چې پۀ غور ځان ته ګورم هم هغه ماشوم یم
چې به مې مور د نظرونو نه پناه ساتلم
د څومره زړونو ، نظرونو دُشمنۍ مې ګله !
پۀ ببعه واخستې ،چې زۀ اؤ تۀ یوه نامه شو
خودا ارمان لکه ازغے مې پۀ زړګی کښې ښخ ـ چې
مور مې هغه ده ،خوئېندې هم هغه خو خدائې زده ولې
چاته هم یاد نۀ دی چې مونږ ته سپېلنی لوګی کړی

## د ۱۹۹۳ ء د پاره یوه نوحه

پوره یو کال ئې خواهشونو سره جنګ کړی دی
خلق پۀ ستړیو قدمونو راوُځی لۀ کوره
نۀ ئې پۀ سترګو کښې رڼا نۀ ئی پۀ مخ زندګی
(دوخت بې نومه ښاریه کښې لکه سپوری روان)

-

څومره پۀ ورو وروئې لۀ خپلو وُږو کوزې کړلې
درنې درنې د یوۀ کال جنازې
څومره قاتله تنهائې ده خو هر چانه چاپېر
خپل سیه پوشه زخم زخم خواهشونه ولاړ
هلته زېړی مرض نیولی لکه زېړ کورکمان
نمر زهرژنه خندا وکړه ډوب شۀ
دلته زما د زلمیتوب لۀ وُنې
بیا یوه څانګه وېنو وُخوړه ـــ را پرېوتله



## ابو ذرغفاری رضی اللہ عنه

د حاکم هر حکم پۀ سر سترګو وړی
ښۀ اؤ بد واړه وینی، ګوری، اوری
خو عالمونه چپ دی
د مصلحت تر مخه

—

یو ابو ذر دے چې پۀ زوړ وجود تنها ولاړ دے
د حاکمانو مخ کښې
ښۀ ته ښۀ وائی ، بد ته بد وائی
بیا ابوذر دے چې پۀ زوړ وجود تنها روان دے
د سوۀ لوۀ صحرا ګانو مینځ کښې
نۀ مدینه کښې ئې ځائې شته ـــ
نۀ ئې څوک شام کښې پرېږدی
د بغاوت وېره ده
چې د هغۀ نه خوشبوئی د انقلاب خورېږی
د مدینې کوڅه کوڅه ګواه ده
اؤد شام هر بازار اؤ هره لاره

د حاکم مخ ته ائینه نیول عظیم جُرم دے

## تۀ ګورې نۀ

لکه جلاد د خپل زړګی پۀ قتلګاه کښې ناست یم
لمحه لمحه لګیا یم خپلې ارزوګانې وژنم
ما ته دوکان د کفنونو ښایه
لمبه لمبه وجود د ګل سپوری له ځنګه یو سم
دا کتابونه چې ځۀ وائی هغه کله شوی
تعبیر د کوم خوب پوره شوے زما

---

پیغلو منګلې پۀ بلیو ښخې کړې
زلمو ده ساه راښکلې
غلام یوسف د سوداګرو قافلې راوستو
ګوره د مصر بازار ټول پۀ تماشه ولاړ دے
پۀ عالمونو کښې مې مۀ شرموه
زۀ خپلو لاسو ته کتلے نۀ شم



ماد یوسف د خریدارو صف کښې مۀ وُدروه
تۀ ګورې نۀ راسره ځنګ کښې زلیخه ولاړه
د زلیخې اؤسرماې پۀ مخ کښې
زما اؤ ستا ځۀ حیثیت اؤ ځۀ معنا جوړیږی

---

زۀ به هلۀ وُدریږم
د ارزوګانو د یوسف د خریدارد صف کښې
چې خپل قسمت د زلیخی لاس نه راچک وهمه

## فضا وائی حسین حسین

یوه شته داسې تنده هم، چې ډېره سربلنده ده
یوه زندګی داسې شته چې ډېره هم نایابه ده
یوه سانحه داسې شته، دهر جبر د لارې خنډ
یوه واقعه داسې شته، دیو بیعت نه چُوټ انکار
یوه قافله داسې شته، چې د شته ئې ګلزار کړله
یوه کپری داسې شته، د ټول تاریخ پۀ مخ ګلاب

دهغې کربلانه پس، دَ هغې مدينې نه پس
يوه کربلا داسې شته چې وينې په بدل غواړی
يوه مدينه داسې شته چې نور ترېنه هجرت پکار
هم هغه دَ خېمو ايرې ، هم هغه ماتمی مابنام
هم هغه دَ فرات غاړه ، هم هغه دَ کوفې ياران

بيا شاه په زور بېعت غواړی ، بيا زمکه ده لمبه لمبه
بيا نمر لکه نېزه لګی ، فضا وائی حسين حسين

بلها ياران دی مرور
تهٔ به خبر ئې ـ چې زمونږه مشترکه قاتل
دَ دې وطن کوڅه کوڅه کښې معتبر بلل شی
تهٔ به خبر ئې ـ زهٔ دَ نمر پهٔ پلوشو مئين يم
خونمر دَ ورېځو يخو يخو زنځيرونو بند پهٔ بند تړلے
تهٔ به خبر ئې ـ دَ هستئ دَ بور جلونو ډيوې
وارپهٔ وار مری اؤ پهٔ خلهٔ هيڅ نهٔ وائی



تهٔ به خبر ئې ـ هغه ستا پهٔ منګل ايښې شونډې
وخت پهٔ وخت ګوټ لهٔ زهرو اخلی اؤ چاپېرئې نولی
بلها ياران دی مرور ، بلها خپلوان مړه خوا

شهر آشوب
سترګې کوم يوهٔ منظر ته اوښکې توې کړی
دَ وطن دَ مخ ګلاب زخمونو
يو بڅری دَ تعبير پسې ړاندهٔ شول
چور ماچور دی وجودونه دَ خوبونو
ترمرئ مرئ ولاړ دَ وينو ډنډ کښې
ښهٔ پهٔ جار مو سودا کيږی دَ سرونو
ـ
ظلم داسې چې کاسه پهٔ کاسه اوړی
دَ دهشت لهٔ فضا تورکی راوريږی
بې تپوسه ايئنې پهٔ کاڼو وُلې
چې دَ خپلو تصويرونو نه بوګنيږی
نوم دَ خدائې اخله نوهر حرام ـ حلال دے

ناروا دَ سترګو رپ کښې روا کيږي

-

دَ ګلونو تپوس يو سړي اونۀ کړۀ
دَ کفن دَ نرخ نه ټول کلے خبر دے
پۀ لعلونو دَ ايرو ډيرې انبار دي
چې جاهل دے ـ هغه دلته دانشور دے
چې ګونګے دے ـ هغه دلته سخنور دے

-

جهالت دَ عامې لاندې محفوظ دے
درسګاه ډکه دَ ,,علم،، دَ تيارونه
چې شاهانوئې دْرشلو ته سلام کړۀ
خالی شوی اَستانې دی دَ هغو نه
دَ ژوندون لارې محرومې دَ ډيوونه

-

عجيبه,, جهاد ،، پۀ مونږه ,, فرض،، شوے
کچه فصَل دَ سرونو مولو کيږي
دَ منبر نه رود دَ وينو راروان دے
دَ ګنبد اؤ منارو سپوری ژړيږي



-

تصور ئې دَ خدائې سل ځايه تقسيم کړۀ
دا ,, دَ دين خدمت،، ئې واړه دَ مزې دے
دَکلام پۀ ځائې دَ خلې نه زهر نولی
چې وارث دَ پېغمبر دَ مصلې دے

خلقه ! کومو جوارګرو سره ناست يُو
ځان مو خلاص کړۀ دَ نيکونو دَ پګړيونه
کاش يوه دَ هُو نعره خوشوے راپورته
دَ مودودَ شاړو شوو اَستانو نه
کاش چې چا خونندارہ دَ وطن وګړے
دَ رحمن اؤ دَ خوشحال دَ هديرو نه

نظم

بيا هغه شپه چې ئې خويونه واړه ماته معلوم
دَ خپل وجود تورکی شيندی لګيادہ ګېر چاپېره
داسې نظر مې دَ اسمان پۀ وسعتونو ښخ دے

لکه څوک ډېر عجیبه څیزونه ستر ګی نهٔ اړوی
اؤ د خوبونو پهٔ امسا باندې ولاړه دُنیا
دومره خاموشه لکه سا اخلی دَ مرګ پهٔ سپوری
دړد دے هغه چې معنا نهٔ لری هیچا دَ پاره
زخم هغه چې دَ لذت نه ئې یوزهٔ خبر یم
زهٔ کهٔ هرڅومره هنر وَر یمه خوګونګ ولاړ یم
ستا نه بغېر دَ احساساتو باران نهٔ وریږی
ستا نه بغېر پهٔ ما الهام دَ توریو کله کیږی

## دَ رې کا

زهٔ دا منم چې ژوند پیکه پیکه دے
خودَ رنګونو سوال به څهٔ وُکړم ـ چې
ماته د تېر سپرلی خویونه یاد دی

ګومان دې مهٔ راځه، خبره دا ده
لهٔ ډېره دړده به ګونګی وی ـ ګنی
دې دېوالونو ډېر ډېر څهٔ لیدلی



اول پهٔ خپلې بربادۍ خفه وُم
خو چې مې ستا سترګو کښې ځان وُلیدهٔ
اوس پهٔ دې خپلې بربادۍ خوشحال یم

مونږ نه خفه دَ بارانونو دېوتا
پهٔ کومه زمکه چې زخمونه کړو
هلته دَ وریځونه چړې وریږی

دَ هر خواهش رنګ دا سې تو الوتی
لکه سپین ږیری خواری کښې نه چرته
دَ مزد ورۍ پېسې پهٔ لار ورکې شی

دَ زخمی سترګو پهٔ بڼو ئې راؤړل
یو شوګیرې ، بل دَ رېګونو سوغات
پښې ابله خلق پهٔ سفر تلی وو

هغه معیار دَ جنون نۀ دی پاتې
زما دَ دَور مئینان وودۀ دی
ستوربو ته وایه چې شپې نۀ روڼوی

دَ دې کالۀ مکین پۀکډه تلی
بیا هم پۀ دې دُرشل تندی ماتیږی
دا دَ سینې پۀ دروازه وُلیکه

یَه دَ دې دَور دَ زندان وحشته
دَ کوم یوسف نه ئې تعبیر وُپښتی
خلقو ژوندی ژوندی خوبونه ښخ کړۀ

واوره بېګاه مې داسې خوب لیدلی
چې دَ خپل تړی اؤ تنها بدن نه
ما څوڅواره خپل لاسونه تاؤ کړۀ

زۀ دَ صدبو دَ سترِی والی غېږ کښې
کورته پۀ دې دروازه نَنَوځم



کورنه پۀ هغه دروازه وُځمه

## قطعات

زمونږ دَ لویو ارمانونو لښکر
هره ورځ دومره پۀ خپل قتل ویاړوی
لکه نو خېزه اؤ نو خطی زلمی
هسکه غړی دَ توپ پۀ ضد ولاړوی

تۀ به زما تپوس دَ چا ، چا نه کړې
زۀ دَ شناخت هیڅ ذریعه نۀ لرم
یو تۀ دې ښار کښې نابلد اؤ بل زۀ
دَ نوم تختیِ پۀ دروازه نۀ لرم

چې را یادیږی نو بیا بیا مې وژنی
حادثې هغه مې پۀ کور کښې وُشوې
حېرانې سترګې دی حېرانې پاتې

،، ناشونې وشوې خو پۀ زور کښې وشوې ،،

## نثرې نظمونه

### تاج محل

تاج محل سپوا لۀ ريا کارۍ اؤ غرکنستل سپوا لۀ
ليونتوبه هيڅ حېثيت نۀ لري

### ياری

ياری دَ ښار دَ سُپر مارکيټونو دَ اعلی دوکانونو پۀ
شو کېسونو کښې لکه دَ ډېکوريشن پيس پرته ده

### شا عری

شاعری دَ مردان اؤ چارسدې دَ زړو ټانګو
دَ سپين ږيرو کوچوانانو سره اؤ بې خونده مشغولا ده

### لفظونه

لفظونه لکه د پېغمبرانو اؤ هر نوی سوچ لرونکيو
خلقو زخمی بدنونه دی



### خواهشونه

ما خپل خواهشونه ټول عمری قېد کړی دی

### ستوری ، سپوږمۍ

دَ سپوږمۍ دَ يخو لاسونو نه زۀ الرجک يم
ستوری ماته تور کفن اغوستی جلوس ښکاری
تيارې پۀ ما ساه بندی راولی

### موسم

هر موسم زما دَ پاره دَ تورو اوبو سزا ده
دَ محبت پۀ وُنه پورې يوه پاڼه نۀ ده پاتې
دَ ګلاب مات ډنډرونه پۀ جنازه پسې دَ روانو خلقو
زوړند سرونه ښکاری

## دُعاګانې

دَ دُعاګانو قبلؤنکو نالیدلو دروازو ته غتې غتې
زنګ وهلې تالې پرتې دی

## زه

زۀ پۀ مېله کښې ورک شوے ماشوم یم
دَهر ,, ما ما ،، ,, کاکا ،، لمن رانیسم
خو دُنیا ډېره مصروفه ده

## تنهائی

تنهائیۍ زما دَ کور پۀ انګڼ کښې پخې خېمې وهلی دی
دېوالونه لکه دَ شیشکو هېبتناک شکلونه دی



زما سترګې تا سره ګانڼه پرتې دی
تا ته پته شته؟
زۀ ډېر خۀ لیدل غواړم
خو زما سترګې تا سره ګانڼه پرتې دی

زۀ غواړم چې سپوږمۍ دومره دَ نزدې نه
وُوینم چې دَ یو بل پۀ وُړو سرونه کېږدو
اؤ دَ یو بل دَ ساه ګانو ازلی اؤ ابدی تنهائی
محسوس کړو
اؤ داسې مو غریو ونیسی
لکه چې ډېر نزدې عزیز مو مړ وی
-
زۀ داسې خوبونه لیدل غواړم
چې دَ هغو دَ تعبیر دَ پُښتلو دَپاره دَیوسف
حاجت نۀ پېښیږی

خو زما سترګې تا سره ګانه پرتې دی

-

زۀ غواړم چې د دنیا دَ دې سر نه واخله
ترهغه سره دَ رڼا ګانو قافلې ووینم
اؤ دَ ژوند دَ علامتونو پۀ پل ـ پل کېږدم
زۀ غواړم چې د خپل دور دَ هر سقراط
توری دَ سترګو رانجۀ کړم
زۀ غواړم چې دَ انقلابیانو د میاندودَ
مخونو پۀهر یو ګونجی کښې ژوند ته دَ بقا ورکولو
حوصلې ووینم
خو زما سترګې تا سره ګانه پرتې دی

-

ټول عمر څوک دَیادونو اؤ اُمیدونو پۀ وېنو خوړلې
امسا اړانه وُدرېدے شی
زما سترګې ځان سره امانت وُساته
کېدے شی یوه ورځ ما خپل خواهشونه فتح کړی
اؤ زۀ خپل لاسونه ، خپل جېبونه
اؤ خپله لمن ـ ستا پۀ وړاندې وُڅنډم



اؤ خپلې سترګې درنه واپس وُغواړم

### د مشرق سوئټزرلېنډ کۀ دوزخ

,, سپین دا چرته تلے؟،،
,, جنازې له،،
,, سحر چرته تلے وۀ ؟،،
,, جنازې له،،
,, اؤ......،،
,, اؤ مازیګر هم جنازې له تلے وۀ،،
,,نو لکه ټوله ورځ ـ،،
,, هو نن سبا ټوله ورځ جنازې کؤو ،،

-

,, توبه خدایه توبه،،
,, خبر خو دے؟،،
,, بېګاه مې عجیبه خوب لیدلے ـ توبه خدایه توبه،،
,, خوب کښې دې څۀ لیدلی؟،،
,, خوب مې لیدۀ چې دَ ,, دیوارِ ګریه،، دَ سترګونه اوښکې

اؤ زمونږ دَ دېوالونو نه وینې داري وهی

-

,, تَهٔ پهٔ ملاکنډ راغلې؟،،

,,هو،،

,, پهٔ لاره تالاشی وه؟،،

,, هو۔ سپاهیانو دَ سرنه تر پښو پورې خلق لټول،،

,, دَ چا سره ئې څهٔ وُنیول؟،،

,, هو دَ یو سړی سره ئې تماچه اؤ دَ بل سره
ئې دَ یو سیګرټ مال وُنیوهٔ،،

,, نو لکه سیکیورټی دومره سخته ده؟،،

,, هو کنه،،

,, نو بیا دا راکټ لانچرې ، بمونه اؤ نوره وسله
څهٔ رنګ را رسی؟،،

,, تهٔ راکړه یو وار نسوار،،

-

,, پهٔ اخبار کښې دوه خبرونه پهٔ یوه ورځ چاپ دی؟،،

,, کوم کوم؟،،

دَ یو خبر سُرخی ده۔ مینګوره ،چارباغ اؤ



مالم جبه کښې ورانکاری اؤ دَ بمونو چاؤدنې ،،

,,اؤ دویم خبر؟،،

,, دویم خبر کښې سرکار اعلان کړے دے چې پهٔ
مری کښې به سېل ګری اؤ هوټلنګ ته وده ورکول کیږی،،

-

,, خبر ئې۔ پرون دَ سوات سیند مړی پهٔ سر راختی وو
اؤ خلقو یو یو بهر ته راویستهٔ ،،

,, څوک وو؟،،

,, یو خو دَ ایف سی والا وهٔ،،

,, څوک وهٔ ،،

,, پښتون وهٔ ،،

,, بل ؟،،

,, دَ بل وورږدې وورږدې څښې وې
طالب معلومېدهٔ،،

,, څوک وهٔ؟،،

,, پښتون وهٔ،،

,, بل ؟،،

,, بل د چا زنانه وهٔ

خلقو وئېل چې دَ جینکو دَ سکول اُستاذه ده،،
,, ثوک وه،،
,, پښتنه وه،،
,, اوبل؟ ،،
,, بل زړې شلېدلې جامې اغوستے مزدورکاروۀ،،
,, ثوک وۀ؟،،
,, پښتون وۀ،،
,, وارثان ئې پېدا شول؟،،
,, ساده سواتيه !دَ پښتنو وارثان چرته وی،،

منجوران

سړی واړه برابر وی خو سړیو کښې یو سړے وی
چې دَ ټول کلی وقار وی ، چې دَ ټول وطن دماغ وی
پۀ سړیو کښې یو سړے وی ، چې مرګ حاله راژوندی کړی
چې دوستان پسې لاس مروړی، چې دُشمن هم ځان ته رام
کړی
پۀ سړیو کښې یو سړے وی ، دَ جرات علمبرداره



پۀ سړیو کښې یو سړے وی ، چې پۀ دار هم سر بُلند وی

یه د خپلو روایاتو ثناخوانو ـــ پاسدارانو
پۀ صد یو کښې یو سړے مو پېدا کړے داسی هم وۀ
چې دَ هر چا زړۀ کښې ناست وۀ ، چې دَ ټول اولس آواز وۀ
اوس هغه مودے وژلے ، اوس ئې مونږ منجوران یُو